مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیدعبیدالله نادر ۲۰۲۳/۰۲/۱۶

# مکاره زمانه

هره پانه چي د ګل څـــــــــخه ، تویږي
صاحبدل په خپل ، انجام باندي پو هیږي

میروښي لور چي د سپین ږیري پلار کره د لیری ملکونو څخه میلمنه راغلي وه.

پس له څو مودي د خدای پاماني په وخت کي یي ، په داسي حال کي چي پلار یي د مریضی په بستر کی پروت وو .او د خپلی لور او نمسیانو د تګ له پاره ژړه غونۍ وو نو لور یي ورته داسی وویل پلاره! مه ژاړه کال ته خیر وي بیا راځو ، پلار ژړا ته نور هم زور ورکړ .ځکه هغه د فاني دنیا نه دومره مهلت ځان ته نه لیده ، او د فاني دنیا په لو بو پوه وو. لور ته یي هیڅ ونه وییل خو ددي ناوییلي ټکي او مضمون درک به غیر د صاحبدل څخه چا نه شو کولای.

زه ګرم نه یم چي ، ژړیږمه عالمـــــــــه
په ټول عمر، د فاني دنیا له غمـــــــــه

څه چي ما په دي ، کاروان کي دي لیدلي
د غافل سترګي یي نه وییني ، په سمــــــه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ